# له افغانستانه د خدای پاماني




د وخت په تېرېدو سره ښايي ډېر څه هېر کړم؛ غونډې، د معلوماتو او لارښوونو يادښتونه، د خبرو مهم ټکي، امنيتي سپارښتنې، او د ملګرو ملتونو بېشمېره راپورونه او لنډيزونه. دا ټول به ورو ورو د وخت په تېرېدو سره کمرنګه شي او يوازې به مبهمې خاطرې ترې پاتې وي.

خو ځينې خاطرې به د تل لپاره زما په ذهن کې ژوندۍ پاتې شي.

د ختيځ افغانستان په يوه کلي کې به هغه مازديګر هېڅکله هېر نه کړم، هغه وخت چې د ۲۰۲۵ کال له ويجاړوونکې زلزلې وروسته هلته ورغلو. زموږ شاوخوا نړېدلي کورونه، دوړې، غم، د هغو ځارويو د مړو بوی چې لا نه وو ښخ شوي، او هغه کورنۍ وې چې هڅه يې کوله د خپل له لاسه ورکړي ژوند پاتې ټوټې بېرته سره راټولې کړي.

په يوه خېمه کې له هغې ښځې سره په خبرو بوخت وم چې خپل هر څه يې له لاسه ورکړي وو. هماغه مهال يې کوچنۍ لور، چې ښايي شپږ يا اووه کلنه وه، له اوبو ډکه يوه کوچنۍ مينايي پياله په لاس زما خواته راغله.

دا ډېر کوچنی کار و، خو په خپل ځان کې يې د مهربانۍ يوه لويه نړۍ لرله.

په داسې ځای کې چې خلکو نږدې خپل هر څه له لاسه ورکړي وو، د افغانستان د خلکو سخاوت او مېلمه‌پالنه لا هم پر خپل ځای پاتې وه.




**بشري پراختیا په رښتیا څه معنا لري؟**

زما د هرات سیمه‌ییز دفتر ته لومړنی سفر به هېڅکله هېر نه کړم. هلته د همکارانو سره په یوه غونډه کې مې له هغوی وپوښتل چې د خپل کار په اړه څه احساس لري. یو همکار مې په لومړي سر کې په ارام او لږ څه ډاډه غږ خبرې پیل کړې.

هغه راته وویل چې له تېرو څلوېښتو کلونو وروسته، د لومړي ځل لپاره یې هېواد له سولې او امنیت څخه برخمن شوی دی. هغه په خوښۍ راته ویل چې اوس، له څلوېښت کلنې جګړې او ناامنۍ وروسته، کولی شي په ډاډه زړه تر ټولو لرې پرتو کلیو ته سفر وکړي، له خلکو سره د کوچنیو بندونو او د اوبو لګولو د سیستمونو په جوړولو کې مرسته وکړي، روغتیایي مرکزونو او کورونو ته لمریزه برېښنا ورسوي، او له بزګرانو سره مرسته وکړي چې یو ځل بیا خپلې ځمکې وکري.

خو هغه څه چې تر هر څه یې ډېر اغېزمن کړی و، دا ودانۍ او پروژې نه وې. تر ټولو مهمه ورته دا احساس و چې د UNDP له لارې یې په پای کې وکولای شول د خپل هېواد خلکو ته خدمت وکړي.

کله چې یې دا خبرې کولې، سترګې یې له اوښکو ډکې شوې.



تر اوسه مې په یاد دي چې هلته ناست وم او د هغه د ژور ویاړ او خوښۍ احساس مې لید. هغه یوازې په خپل هېواد نه ویاړېده، بلکې په دې هم ویاړېده چې د داسې هڅو برخه و، چې یو ځل بیا یې د افغانستان عادي خلکو ته د ثبات، عزت او هیلې احساس ور بېرته کړی و.این است معنای واقعی توسعهٔ انسانی؛ نه اسناد و گزارش‌های پروژه، بلکه آبی که دوباره به دا ده بشري پراختیا؛ نه یوازې د پروژو اسناد، بلکې هغه اوبه چې وچو کروندو ته رسېږي، هغه روغتیایي مرکز چې د شپې هم خلکو ته خدمت کوي، او هغه کورنۍ چې یو ځل بیا یې د عزت او ابرو سره د ژوند کولو زمینه برابره شوې وي. همدا هغه هدف دی چې د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام یې په افغانستان کې د عملي کېدو لپاره کار کوي.



یوه بله خاطره هم ده چې هېڅکله به یې هېره نه کړم. هغه مازدیګر و چې جلال‌آباد ته پر لاره وو. زموږ د زغره‌والو موټرو کاروان د سړک پر غاړه ودرېد، څو د پولیسو د امنیتي ساتنې غړي لمونځ وکړي.

هماغه مهال د ساتنې یو غړی زما خواته راغی او خبرې یې راسره پیل کړې. غوښتل یې پوه شي چې زه د کوم هېواد یم. په لومړي سر کې لږ اندېښمن وم، خو ډېر ژر زموږ خبرې بل لور ته ولاړې. نور نه د سیاست خبره وه او نه د جګړې؛ خبرې مو د ویسټ انډیز د کرکټ په اړه کولې. هغه د کریس ګېل، براین لارا او د دې لوبډلې د نورو ستورو د زړه راښکونکو توپ‌وهنو یادونه کوله او په ډېر شوق یې زموږ د توپ‌وهونکو د زړورتیا او بې‌باکه لوبې ستاینه کوله.

وروسته زما امنیتي مسؤل په ارامۍ راته وویل چې هغه کس، چې څو شېبې مخکې یې راسره خبرې کولې، پخوا د طالبانو د ځانګړو انتحاري ځواکونو غړی و.

له هغې وروسته د یو څه وخت لپاره چوپ ناست وم او یوازې دې ته مې فکر کاوه چې هغه له کرکټ سره څومره مینه درلوده.

هماغه وخت مې له ځان سره فکر وکړ چې په دې نړۍ کې موږ دا انتخاب لرو، چې د یوه ځوان په لاس کې یا ټوپک ورکړو، او یا د کرکټ بېټ.

کله چې په افغانستان کې پسرلی راشي، هر لور ته ماشومان په کرکټ بوخت وینئ؛ د سړکونو پر غاړه، په دوړو ډکو میدانونو او آن د وچو سیندونو په بسترونو کې، د هغو غرونو تر سیوري لاندې چې کلونه کلونه یې جګړې او شخړې لیدلې دي. خو په هماغه شېبه، هغوی یوازې ماشومان وي؛ هغه ماشومان چې په مینه او بې‌غمۍ لوبې کوي.



**هغه څه چې جګړه یې هم له منځه نه شي وړلای**

افغانستان تل انسان د ژوند له داسې پېچلو انساني حقیقتونو سره مخامخ کوي چې ورسره مخ کېدل اسانه کار نه دی.. ډېر وخت موږ د افغانستان خلک یوازې د خبرونو او هغو انځورونو له لارې پېژنو چې رسنۍ یې راته ښیي. خو د افغانستان خلک هغه ساده او یو اړخیز انځور نه دی چې په خبرونو کې یې وینو.

دوی داسې خلک دي چې کلونه یې د جګړې سختې ورځې تېرې کړې دي، خو بیا هم خاندي، خوبونه لري، د کرکټ په اړه خبرې او بحثونه کوي، خپلې ځمکې کري، له یو بل سره ډوډۍ خوري، او هیله لري چې اولادونه یې ښه او روښانه راتلونکې ولري.

د امنیتي معلوماتو هغه غونډې به هم هېڅکله هېرې نه کړم؛ هغه غونډې چې پکې به د وسلهوالو ډلو، د هغوی تر ولکې لاندې سیمو او امنیتي ګواښونو په اړه په داسې ارامۍ خبرې کېدې، لکه د هوا د حال په اړه چې خبرې روانې وي.

یوه بله ورځ هم راته ښه په یاد ده. له یوه لرې پراته غرنۍ کلي څخه تر لیدنې وروسته بېرته را روان وو، چې یوه افغان همکار مې په ډېرې ساده لهجې وویل، هغه سیمه چې څو شیبې مخکې مو پرېښوده، د یوې پېژندل شوې ترهګرې ډلې تر ولکې لاندې وه.

په حیرانتیا مې ترې وپوښتل: «نو بیا یې پر موږ ولې برید ونه کړ؟»

هغه وخندل او ویې ویل: «ښایي فکر یې کړی وي چې دا کار به د دوی په ګټه نه وي، ځکه موږ هلته د خلکو د مرستې لپاره تللي وو.»

د لږ وخت لپاره چوپ پاتې شوم. هم د هغه حالت جدي والي حیران کړی وم او هم د دې هر څه عجیب او نه باورېدونکی اړخ.


THE

یوه بله شپه هم هېڅکله نه شم هېرولای. هغه شپه چې د ملګرو ملتونو د دفتر ترڅنګ چاودنه وشوه. چاودنه دومره زوروره وه چې نه یوازې یې زما د اپارتمان ښیښې او چت ولړزاوه، بلکې ما یې رېږدېدل تر خپلو هډوکو احساس کړل. هماغه شپه مې د لومړي ځل لپاره په رښتیا احساس کړه چې مرګ انسان ته څومره نږدې کېدای شي.

خو نن چې افغانستان ته فکر کوم، هغه څه چې تر هر څه زیات راسره پاتې دي، ویره نه ده.

بلکې د افغانستان خلک دي.

**او زما همکاران...**

**هغه همکاران چې ویاړ مې و، د هغوی ترڅنګ مې کار کړی دی.**

ستاسې نومونه به هېڅکله هېر نه کړم.

هغه خواړه چې تاسو به راته راوړل ، حتی کله چې مې ویل اړتیا نشته. هغه مېوې او وچې مېوې به هم هېرې نه کړم چې له خپلو کورونو مو راته راوړلې، او هغه د تازه ګلونو وړې ګېډۍ چې بې‌وال به په خاموشۍ زما پر مېز ایښودې.

ستاسې کیسې او هغه څه چې د ژوند په اوږدو کلونو کې مو تېر کړي، هم به تل زما په یاد وي. نړۍ‌کله ناکله دا هېروي چې افغانستان یو لرغونی او بډای تاریخ لري، او د دې هېواد د خلکو ژوند یوازې په جګړو او شخړو نه را لنډېږي.



زما افغانې ښځینه همکارانې به هېڅکله هېرې نه کړم؛ تکړه، پیاوړې او باارادې ښځې، چې هره ورځ له داسې ستونزو سره مخ کېږي چې د نړۍ ډېرې لږې ښځې یې تجربه کوي. یوازې دومره غواړم ووایم چې هېڅکله داسې احساس مه کوئ چې ما تاسې هېرې کړې یا مې یوازې پرېښې یاست. داسې به هېڅکله ونه شي. تاسې به تل زما په یاد او دعا کې یاست .

زما موټرچلوونکی، عنایت‌الدین، به هم هېڅکله هېر نه کړم. هغه یو مهربان، ارام او د ښه زړه خاوند انسان و. د هغه مړینې ماته دا را وښوده چې په افغانستان کې، کله چې وایو: «ان‌شاءالله راتلونکې اوونۍ به سره ووینو»، دا یوازې یوه ژمنه نه ده، بلکې یوه هیله ده چې خدای ته یې سپارو.




هغه وزیران او والیان به هم په یاد ولرم چې په دې موده کې مې ورسره لیدلي دي، او هم به د هغوی ډالۍ هېرې نه کړم؛ له زعفرانو نیولې تر هغو کوچنیو ګلدانونو پورې چې د افغانستان له ډېرو جوړ شوي وو. که څه هم موږ تل په هره موضوع کې یوه نظر نه درلود او کله ناکله مو بېلابېل نظرونه لرل، خو له دې ټولو سره سره، زموږ ترمنځ درناوی، رښتینولي او د خلکو د ژوند د ښه کېدو ګډه هیله موجوده وه. او د افغانستان د خلکو مېلمه‌پالنه... دا هغه څه دي چې هېڅکله به یې هېر نه کړم.

په ځانګړې توګه یو وزیر مې ډېر په یاد دی. زموږ کاري اړیکې تل اسانه نه وې او وخت یې ونیو چې اختلافونه مو هوار شي. د خپلو وروستیو لیدنو په یوه کې مې ترې وپوښتل: «وزیر صاحب، اوس زموږ اړیکې څنګه دي؟» هغه وخندل او د ژباړونکي له لارې یې وویل: «اوس هر څه ښه دي.» کله ناکله همدا څو خبرې د هر څه مانا بیانوي.




هغه ټول خلک به هم هېڅکله هېر نه کړم چې د خپلو کورونو دروازې یې راته پرانیستې؛ د سیمو مشران، د ټولنې غړي، د نادولتي بنسټونو همکاران، د خصوصي سکټور شریکان، وزیران، والیان او بزګران.



او افغانستان... افغانستان به تل زما په زړه کې ژوندی وي؛ د آبي جومات ښکلا، د هرات تاریخي کلا، د بامیان او بند امیر بې‌سارې ښکلا، غرونه او جهیلونه، خوندور کابلي پلو، د کندز خوږې هندوانې، د کندهار انار، لرغوني شعرونه، زرین تاریخ، او د دې هېواد د خلکو عزت او وقار.



افغانستان زما نړۍ ته د کتلو طرز بدل کړ. دې خاورې ماته دا را وښودله چې انسانان باید په ژوره سترګه وپېژنو، ساده او یو اړخیز روایتونه په اسانه ونه منو، او باور ولرو چې حتی په تر ټولو سختو حالاتو کې هم د انسان عزت، مهرباني او موسکا ژوندۍ پاتې کېدای شي.

**افغانستانه، تا ماته داسې خاطرې او ملګرتیاوې راکړې چې د ټول عمر لپاره به یې له ځان سره وساتم.**

تا ماته دا هم وښودله چې حتی په تر ټولو سختو شرایطو کې هم د انسان مهرباني هېڅکله له منځه نه ځي. دا مې هغه ورځ په خپل ټول وجود احساس کړه، کله چې یوې وړې نجلۍ، سره له دې چې نږدې یې هېڅ هم نه لرل، په ډېره مینه یوه کوچنۍ د اوبو پیاله راته ونیوله.